شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


نبي عليه السلام فرمايي: څوک، چې له دنيا سره مينه لري او مطلوبه ئې وي؛ هغه خپل آخرت ته زيان اړوي او څوک، چې له آخرت سره مينه ولري؛ هغه خپلې دنيا ته زيان اړوي؛ نو تر نيمګړي دنيا، تل پاتي آخرت ته لومړيتوب ورکړئ.
[مسند احمد (ص: ۷ : ۱٤ شان الحديث ۱۹۵۸۵ ) شعب الايمان (ص: ۲۸۸ ج: ۷ شان الحديث ۱۰۳۳۷) و(البيهقي)].

نبي عليه السلام مى فرمايد: كسيكه مطلوبش دنيا و با آن محبت داشته باشد، گويا به آخرت خود ضرر مى رساند و كسيكه به آخرت محبت داشته باشد؛ وى به دنياى خود ضرر مى رساند؛ پس آخرت ابدى را نسبت به دنياى فانى اولويت دهيد.
[مسند احمد (ص: ۷ : ۱٤ شان الحديث ۱۹۵۸۵ ) شعب الايمان (ص: ۲۸۸ ج: ۷ شان الحديث ۱۰۳۳۷) و(البيهقي)].

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري )


شنبه | دمحرم الحرام ۲۸ - ۱٤٤٦ال س/د زمري ۱۳-۱٤۰۳ال ل/ د اګسټ ۳-۲۰۲٤ز/خلورم كال / ۱۰۹ ګڼه/ ٤ مخيزه




## سر مقاله

### ۱۲ ګمرکونه به په ۲۴ سکېنرونو سمبال سي

د ماليې وزارت لـه کليـدي برخـو څخـه يـو هـم ګمرکونـه دي، چـې هـم د عوايـدو زياتـه برخـه ورڅخـه لاسـته راځـي او هـم د سـيمي او ګاونډيـو هيوادونـو سره د سـوداګرۍ د راکـړې ورکـړې او همـدا شـان د ټرانزيـټ پرانيسـتي دروازې دي. ګمرکونـه يـوه هيـواد تـه څکـه د اهميـت وړ دي، چـې هـم لـه بهرنيـو او سـيمه ييـزو هيوادونـو څخـه ټـولي کورنـۍ اړتيـاوي پـوره کـوي او هـم د خپلـو توليداتـو د صادرولـو لـه پاره همدغـه مجوزه لاره ده، چـې لـه ګاونډيـو هيوادونـو سره د يـوه ټـاکلي معيـار او منـل سـوي قانـون پـر بنسـټ د تـګ او را تـګ تـړون لـري؛ نـو معيـاري کېـدل او ښـه سـمبالېدل ئـې پـه يـادو سـويو او اړونـدو برخـو کـې اسـانتياوي رامنځتـه کـوي.

کـه څـه هـم د اسـلامي نظـام لـه راتـګ سره ګمرکونـو تـه ډېره پاملرنـه سـوې ده، ډيجيټـل او انالـوګ تـلي پکښـې نصـب سـوي، د بارووړونکـو موټرونـو لـه پـاره مجهـز تمځايونـه، سـتر جوماتونـه، کارکوونکـو او سـوداګرو تـه د محصـول تحويلولـو اسـانتياوي او بالاخـره د ورځنيـو اړتيـاوو ټـول اړخونـه ئـې پـه پـام کـې نيـول سـوي؛ خـو بيـا ئـې هـم د پرمختلليـو هيوادونـو پـه پرتلـه دغـې چـاري بسـنه نـه کولـه.

ماليـې وزارت تېـره اوونـۍ د نـورو اسـانتياوو، قاچـاق د مخنيـوي او ګمرکونـو د معيـاري کولـو پـه موخـه لـه يوه خصوصي شرکت سره د (۱۲) ګمرکونـو لـه پـاره د (۲۴) پرمختلليـو سـکېنرونو نصبولـو تـړون لاسـليک کـړ، چـې څـه کـم (اتـه ميليـارډه) افغانـۍ ارزښـت لـري او پـه راتلونکـو کلونـو کـې بـه د ګمرکونـو پـه برخـه کـې يـو سـتر بدلـون رامنځتـه کـړي. دغـه سکېنرونه به د لومـړي ځـل لـه پـاره د خصـوصي سـکټور لـه لـوري پـه ذکـر سـويو برخـو کـې نصبېـږي. ذکـر سـوي سـتر سـکېنرونه (Truck Scanner) بـه لـه نړيوالـو معتبرو شرکتونـو څخـه ترلاسـه کېـږي.

دغـه سـکنرونه بـه پـه تورخـم، حيرتـان، سـپين بولـدک، اسـلام کلا، تورغونـډۍ، نيمـروز، خوسـت، پکتيـا، آقينـه، انګـور اډه، ابونـصر فراهـي او شـېرخان بندرونـو کـې نصبېـږي. پـه ګمرکونـو کـې د دغـه سـکېنرونو نصبـول د دوو موخـو لـه پـاره دي، يـو د وارداتي توکـو لـه پـاره او بـل ئـې هـم د صـادراتي توکـو لـه پـاره. د دې سـترو سـکېنرونو ترڅنـګ (۳۳) واړه سـکېنرونه هـم شـته، چـې د هوايـي ډګرونـو پـه ترمينلونـو کـې بـه نصبېـږي او د دې پـروژې پـه پـلي کولـو سره بـه څـه لـه پاسـه (۲۰۰۰) کسـانو تـه پـه مسـتقيم او غيـري مسـتقيم ډول د کار زمينـه هـم برابـره سـي.

پـه ټولـه کـې بـه دغـه سـکېنرونه د مـادي ګټـو ترڅنـګ بـې شـمېره نـوري ګټـې هـم ولـري؛ لکـه: پـه نړيوالـو معيارونـو برابـرو د معيـاري چوپړتيـاوو وړانـدي کـول، روڼتيـا او د کار چټکتيـا رامنځتـه کـول، پـه ريښـتيني ډول او لـه تېښـتي پرتـه د مـلي عوايـدو را ټولـول، پـه اغېزمنـه توګـه د ګمرکونـو فعاليتونـو تـرسره کـول. لکـه مخکـې مـو، چـې يادونـه وکـړه د قاچاقـي او ممنوعـه توکـو د لېـږد را لېـږد مخنيـوى، د توکـو د کـره کتنـې لـه کبلـه د عوايـدو زياتېـدل، پـه هيـواد کـې د پانګـوني لـه پـاره د خصـوصي سـکټور هڅـول، د ګمرکونـو معيـاري او نړيـوال کولـو تـه يـو بـل ګام نـږدې کېـدل او همـداراز د صادراتـو او وارداتـو پـه برخـه کـې د روڼتيـا رامنځتـه کـول. پـه پـاى کـې بايـد ووايـو، چـې پـه راتلونکـو دوو کلونـو کـې بـه هـم مـلي عوايـد پـه بـې سـاري کچـه لـوړ سي، هـم بـه پـه بشـپړه توګـه د غيـر قانونيـو مخـه ونيـول سي.

درنښت
اداره

# د هيواد په ۱۲ ګمرکونو کي د څه کم (اته) ميلياردېه افغانيو په ارزښت د ۲۴ پايو سکېنرونو د نصب قرارداد لاسليک سو



د هيـواد پـه (۱۲) ګمرکونـو کـې د (۲۴) لويـو پايـو عـصري سـکېنرونو او د هوايـي او ځمکنـۍ کارګـو لـه پـاره د (۳۳) کوچنيـو سـکېنرونو د نصـب مهمـې پـروژې قـرارداد، د ماليـې وزارت د مـالي معيـن حاجـي عبدالقديـر احمـد، د چـارو اداري لـوى رئيـس شـيخ الحديـث نورالحـق انـور او د زبيـر مصـور خصوصي سـوداګريز شرکـت د مسـئول لـه لـوري د عامـه او خصـوصي مشـارکت لـه اصولـو سره سـم لاسـليک سـو.

د دغـې مهمـې پـروژې د قـرارداد لاسـليک کولـو پـه موخـه د حکومـت د اطلاعاتـو او رسـنيو پـه مرکـز کـې غونـډه جـوړه سـوې وه، چـې پکښـې د رياسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتيال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد، د ماليـې وزارت د مـالي او پاليـسي چـارو معينانـو، د چـارو اداري لـوى رئيـس او د زبيـر مصـور خصـوصي سـوداګريز شرکـت مسؤلينو ګـډون کـړى وو.

د ماليـې وزارت د پاليسـۍ معيـن انجنيـر سـلطان محمـد زبيـر د هيـواد پـه ګمرکونـو کـې د (۲۴) لويـو پايـو عـصري سـکېنرونو د نصـب پـروژه پـه مـلي کچـه يـو سـتر پرمختـګ يـاد کـړ او دا ئـې د سـوداګرو او پانګوالـو لـه پـاره د لا ډېـرو اسـانتياوو رامنځتـه کولـو او د قاچاقـي توکـو د مخنيـوي پـه برخـه کـې يـو مهـم ګام وبالـه.

ښـاغلي زبيـر همـداراز زياتـه کـړه، چـې د ماليـې وزارت سيسـټمونه پـه ځانګـړي ډول د ګمرکـي چارو اړوند اسـيکوډا سيسـټم د سـيمي پـه کچـه يـو بـې سـارى پرمختللى سيسـټم دئ، چـې د اسـلامي امـارت لـه بيـا حاکميـت وروسـته د وزارت اړونـد سيسـټمونه لا ډېـر مجهـز او پـه پرمختلليـو امکاناتـو سـمبال سـوي دي او ماليـې وزارت بـه د سيسـټم جـوړوني پـه برخـه کـې خپلـو هلـو ځلـو تـه دوام ورکـوي.

د زبيـر مصـور خصـوصي سـوداګريز شرکـت رئيـس نجـم الديـن سـياس وويـل، چـې د هيـواد پـه ګمرکونـو کـې د سـکېنرونو د نصبولـو پـروژه د افغانسـتان پـه تاريـخ کـې يـوه لـه هغـو سـترو مـلي پـروژو څخـه ده، چـې پـه لومـړي ځـل د خصـوصي سـکټور پـه مـټ تطبيـق کېـږي؛ نوموړي لـه اسلامي امـارت څخـه مننـه وکـړه، چـې دوى تـه ئـې پـه پـوره روڼتيـا د دغـه سـتري پـروژې د تطبيـق زمينـه برابـره کـړې ده.

دغـه سـتره پـروژه بـه د هيـواد پـه (۱۲) ګمرکونـو؛ تورخـم، حيرتـان، سـپين بولـدک، اسـلام کلا، تورغونـډۍ، نيمـروز، خوسـت، پکتيـا، پکتيـکا، آقينـې، ابـو نـصر فراهـي او شـېر خـان بنـدر کـې پلـې سي، چـې پـه هـر ګمـرک کـې بـه دوه سـکېنرونه، يـو د وارداتـو او بـل د صادراتـو لـه پـاره نصـب سي. سربېـره پـر دې بـه پـه يـادو ګمرکونـو کـې د اړينـو تأسيسـاتو د رغـوني چـاري هـم تـرسره سي.

د دغـې پـروژې ټولـيز ارزښـت (۷،۹) ميليـارډه افغانـۍ دئ، چـې رغنيـزي چـاري بـه ئـې پـه دوو کلونـو کـې بشـپړې سي او (۲۰۰۰) کسـانو تـه بـه پکښـې پـه مسـتقيم او غيـر مسـتقيم ډول د کارکولـو زمينـه هـم برابـره سي.

د دې پـروژې پـه پـلي کېدلـو سره بـه پـه ګمرکـي عوايـدو کـې د پـام وړ زياتوالـى راسي او ورسره بـه سـوداګرو او پانګوالـو تـه پـه اړونـدو چـارو کـې لا ډېـره روڼتيـا، چټکتيـا، امنيتـي خونديتـوب او د پـام وړ اسـانتياوي رامنځتـه سي.

## د ماليه ورکوونکو د شکايتونو اورېدو رياست ۲۵٦ شکايتونو ته رسېدنه کړې ده

د ماليـې وزارت د ګمرکونـو او عوايـدو معينيـت د ماليـه ورکوونکـو د شـکايتونو اورېـدو رياسـت، چـې ماليـاتي شـکايتونو تـه د رسـېدني چـاري تـرسره کـوي، پـه روان (۱٤۰۳هــ.ل) کال کـې ئـې د ماليـه ورکوونکـو (۲۵٦) شـکايتونو تـه رسـېدنه کـړې ده.

لـه دغـه رياسـت سره پـه روان (۱٤۰۳هــ.ل) کال کـې د ماليه ورکوونکـو د بېلابېلو برخـو (اصنافو، جايدادونـو او شرکتونو) څخـه د ماليـې اړونـد (۲۹۲) شـکايتونه شريـک سـوي دي، چـې د يـاد رياسـت تخنيکـي او مسـلکي ټيـم د شريکـو سـويو شـکايتونو لـه ډلي څخـه (۲۵٦) شـکايتونو تـه لـه دقيقـي ارزوني وروسـته، رسـېدنه کـړې او حل کـړي ئې دي.

د ماليـه ورکوونکـو د شـکايتونو اورېدلـو رياسـت د خپـل مسـلکي او تخنيکـي ټيـم پـه وسـيله د ماليـه ورکوونکـو شـکايتونو تـه د رسـېدني پـه موخـه، سـيمي تـه ځـي او هـر ماليـه ورکوونکـى، چـې لـه تثبيـت سـوي ماليـې څخـه خـوښ نـه وي شـکايت تـه ئـې رسـېدنه کـوي او بشـپړ رضايـت ئـې ترلاسـه کـوي.


ماليـه ورکونکـي کـولاى سي، خپـل شـکايتونه لـه دغه رياسـت څخـه د ټاکلـى فورمـې پـه ترلاسـه کولـو او يـا د ګمرکونـو او عوايـدو معينيـت تـه د عريضـې پـه وړانـدي کولـو سره ثبـت کـړي، چـې د يـاد رياسـت د تخنيکـي او مسـلکي ټيـم لـه لـوري بـه ئـې شـکايتونو ته پـه ټاکلـې موده کـې رسـېدنه وسـي.





د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيول سوي دي


م ۲

د ملي بوديجې د اجراء اصولنامې په تړاو د روزنيز پروګرام ګډونوالو ته تصديق پاڼې ورکړل سوې


م ۲




د ولايتي مستوفيتونو د بررسۍ کارکوونکو ته روزنيز پروګرام جوړ سو


م ۲




د تورخم په ګمرک کي هيواد ته د يو شمېر نظامي تجهيزاتو له راوړلو څخه مخنيوی وسو


م ۲




په ۱٤۰۲ مالي کال کي د عوايدو لوی رياست کړني او لاسته راوړني


م ۲




د افغانستان د سوداګريزو توکو ارزښت د (۲۰۲٤)ز د لومړيو شپږو مياشتو په موده کي (۵,۲) بيليونو امريکايي ډالرو ته رسېدلی دئ


م ٤

# د ملي بودیجې د اجراء اصولنامې په تړاو د روزنيز پروګرام ګډونوالو ته تصدیق پاڼې ورکړل سوې

د ماليې وزارت د ملي بودیجې لوی ریاست له لوري، د دغه ریاست کارکوونکو ته د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال ملي بودیجې د اجراء اصولنامې او اړوند چارو په تړاو جوړ سوی یو میاشتنی روزنيز پروګرام پای ته ورسېد.

په دې تړاو ناسته کې د ماليې وزارت مالي معین حاجي عبدالقدیر احمد، د ملي بودیجې لوی رئیس حبیب الله حبیب سباوون، د یاد ریاست د پلان او ریفورم رئیس پوهنمل غلام عمر عبدالله، د ملي بودیجې اجرائیوي رئیس عبدالجبار وحدت او د یاد ریاست کارکوونکو ګډون کړی وو.


د ماليې وزارت مالی معین وویل، چې د ملي بودیجې لوی ریاست کړني په ملي کچه پر مالي او اقتصادي وضعیت او همدارنګه د بودیجوي واحدونو پر مالي چارو باندې مستقیم اغېز لري؛ نو اړینه ده، چې د دغه ریاست کارکوونکي له مسلکي پوهې او ژمنتیا څخه پوره برخمن و اوسي.

نوموړي د دغه ریاست له کارکوونکو څخه وغوښتل، چې له مسلکي، تخصصي او تخنیکي روزنیزو پروګرامونو څخه په ګټې اخیستني سره اړوندي چارې په ښه ډول مخته یوسي.

د ملي بودیجې لوی رئیس وویل، چې دغه ریاست په مسلکي او تخصصي توګه د ملي بودیجې د ترتیب، تطبیق او نظارت مهمې چارې ترسره کوي، چې پر همدې بنسټ ئې د اړوندو چارو د لا ښه پرمخ وړلو په موخه د دغه ریاست کارکوونکو ته یو میاشتنی روزنيز پروګرام جوړ او ترسره کړ.

ښاغلي سباوون زیاته کړه، چې په دغه پروګرام کې ګډونوالو ته د (۱۴۰۳هـ.ل) کال ملي بودیجې د اصولنامې، د بودیجې د تطبیق، څارني او همدارنګه په نړیوال معیار برابر د (GFS, PEFA, COFOG) پرګرامونو او د عادي او پراختیایي بودیجې د تخنیکي نورمونو؛ لکه: (ب ۱۰ – ب ۲۰ - ب ۲۳ – ب ۳) په تړاو د مجربو ټرینرانو له لوري ګټور معلومات ورکړل سول او په راتلونکي کې به هم د روزني ورته پروګرامونه دوام ولري.

په پای کې د ماليې وزارت د مالي معین له لوري د ملي بودیجې لوی ریاست یو شمېر مسئولینو او د یاد ریاست د رئیسانو له لوري د روزنيز پروګرام ګډونوالو ته تصدیق پاڼې ورکړل سوې.



# د ولایتي مستوفیتونو د بررسۍ کارکوونکو ته روزنيز پروګرام جوړ سو

د ماليې وزارت د بشري سرچینو ریاست له لوري، د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له تدریسي پلان سره سم د (۳۴) مستوفیتونو د بررسۍ (۳۳) کارکوونکو له پاره روزنيز پروګرام پیل سو.



د دغه روزنيز پروګرام په پرانیستغونډه کې د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس حافظ شاه حسین حسیني، د کورنۍ پلټنې لوی رئیس انجنیر عبدالطیف خالد، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر، د عوایدو لوی ریاست حمایوی مرستیال منصورالحق ذاکر او د ولایتي مستوفیتونو د بررسۍ کارکوونکو ګډون کړی وو.

د بشري سرچینو رئیس د مستوفیتونو د بررسۍ برخې له کارکوونکو څخه وغوښتل، چې له دغه پروګرام څخه ښه ګټه واخلي او په اړونده برخه کې خپلې ستونزې، چې د بررسۍ پر مهال ورسره مخامخ کېږي حل کړي او چارې په پوره مهارت او روڼتیا ترسره کړي.

د عوایدو لوی رئیس وویل، چې د ماليې وزارت ټولو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو اړین فرصتونه برابرېږي؛ نو پکار ده، چې ټول کارکوونکي او په ځانګړې توګه د مستوفیتونو د بررسۍ آمرین او عمومي مدیران له دې فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي او ور سپارل سوي مسؤلیتونه په پوره ربښتینولۍ، ژمنتیا او عدل سره مخته یوسي.

د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د بررسۍ اصلي موخه په مالیاتي پروسه کې د عدالت رامنځته کول او د فساد له منځه وړل وبلل. ښاغلي خالد زیاته کړه، چې د بررسۍ کارکوونکي باید مسلکي وي، له ټولو مالیاتي نورمونو او مالي سیستمونو سره باید پوره بلدتیا ولري؛ تر څو اړوندي چارې په ښه ډول مخته یوسي.

د یادوني وړ ده، چې د دغه (۱۵) ورځنی پروګرام په لړ کې به ګډونوالو ته د مالیاتي قوانینو، د بررسۍ طرزالعملونو، د محاسباتو او مالیاتي سیستمونو په برخو کې روزنه ور کړل سي او د پروګرام په پای کې به له ګډونوالو څخه ازموینه هم واخیستل سي.

# په ۱۴۰۲ مالي کال کې د عوایدو لوی ریاست کړني او لاسته راوړني

۱- په (۱۴۰۲هـ.ل) کال کې د (۲۷۲٦) بنسټونو بررسي ترسره سوې ده، چې په پایله کې ئې (۴،۹۳۷) میلیارډه افغانۍ عواید بیت المال ته ور زیات سوي او همدارنګه (۱۹۵۰۵) بنسټونو ته ابتدایي تحقق صادر سوی، چې په پایله کې (۲۴) میلیارډه افغانۍ بیت المال ته تحویل سوې دي.

۲- د هیواد په (۱۷) ولایتونو کې د سیګټاس سیستم دوهم او دریم ګروپونه پلي سوي او همدارنګه په (۱۴) ولایتونو کې مالیه ورکوونکو ته د برېښنایي اظهارلیک ټرېنینګ ورکړل سوی.

۳- د مالیاتي ادارو د طرزالعملونو ارزونه او د سرقلفي مالیو اخیستلو طرزالعمل ترتیب او منظور سوی دئ.

۴- د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د دوه ګونو مالیو د مخنیوي طرحه چمتو او پلي سوې ده.

۵- انفرادي او حکمي اشخاصو ته د پېژندني (۷۲۰۰۰) ګڼې وېشل سوي او همدارنګه پر عایداتو د مالیاتو قانون له لومړۍ مادې سره سم د (۷۰۰) ډوله مالیاتو د معافیت طرزالعمل صادر سوی دئ.

٦- تر تحلیل او ارزوني وروسته په (TAIS) سیستم کې (۵۷۸۸) قراردادونه ثبت سوي دي.

۷- تر اوسه پوري (۵۷۸۸) قراردادونه تر لاسه او له تحلیل او ارزوني وروسته په (TAIS) سیستم کې ثبت سوي دي.

۸- د غیرمالیاتي عوایدو د لاښه مدیریت او د شفافیت د تضمین له پاره د غیرمالیاتي عوایدو د قانون مسوده ترتیب سوې ده او همدارنګه د وزارتونو او خپلواکو ادارو د ارزښتناکه اسنادو د ډیزاین او چاپ چاري تر سره سوي دي.

۹- د منحل سویو کورنیو مؤسسو د بیا فعالولو حق الثبت فیس له (۵۰۰۰۰) افغانۍ څخه (۷۵۰۰۰) افغانۍ ته لوړ سوی او همدارنګه د منحل سویو بهرنیو مؤسسو د بیا فعالولو د حق الثبت فیس له (۵۰۰۰) ډالرو څخه (۷۵۰۰) ډالرو ته لوړ سوی دئ.



د مالیې وزارت
د ګمرکونو او عوایدو معینیت
د عوایدو لوی ریاست

## د کرایې موضوعي مالیه



**لومړی برخه**

### د کرایې د موضوعي مالیې نورمونه

1. که چیري د جایداد میاشتنۍ کرایه له 10,000 افغانۍ څخه کمه وي موضوعي مالیه ئې نه مطرح کېږي.
2. هغه جایدادونه، چې میاشتنۍ کرایه ئې له 10,000 تر 100,000 افغانیو پوري وي د 10% موضوعي مالیې تابع کېږي.
3. هغه جایدادونه، چې میاشتنۍ کرایه ئې له 100,000 افغانیو څخه زیاته وي، د 15% موضوعي مالیې تابع کېږي.

لومړی مثال:
احمد یو باب دوکان په 20,000 افغانۍ په کرایه نیولی دئ ، پر کرایه باندې ئې موضوعي مالیه په لاندې ډول سنجول کېږي: 20,000x10%= 2,000

دوهم مثال:
محمود یو پلورنځی د میاشتې په 120000 افغانۍ په کرایه نیولی دئ ، پر کرایه باندې ئې موضوعي مالیه په لاندې ډول سنجول کېږي: 120,000x15%= 18,000

تبصره:
پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د (88 یمې) مادې د حکم مطابق احمد او محمود مکلف دي، چې وضع سوې مالیه د راتلونکې میاشتې تر پنځلسمې نېټې پورې د امارتي عوایدو بانکي حساب ته تحویل کړي.
همدارنګه پورته موضوعي مالیه د جایداد د مالک پرعایداتو باندې د مالیاتو مخکې ورکړه ده ، د جایداد مالک پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون (88 یمې) مادې د حکم مطابق مکلف دئ، چې د خپلو کرایوي عوایدو د مالیاتو اظهار پاڼه د کال په پای کې وړاندې کړي او پر خپلو عایداتو باندې مالیات تصفیه کړي.
هغه موضوعي مالیه ، چې د کرایه ورکوونکي له خوا تادیه سوې وي د جایداد د مالک له پاره پر عایداتو باندې د مالیاتو د اظهار پاڼې د وړاندې کولو په وخت کې د محاسبې او مجرایې وړ ده.

MofAfghanistan mof.gov.af

# د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني ځیرکو کارکوونکو تېره اوونۍ د کندهار، نیمروز، فراه، ننګرهار او هرات ولایتونو په ځینو سیمو کې د یو لړ ګزموي او پلټونکو عملیاتو پر مهال په زیاته کچه قاچاقي او ممنوعه توکي نیولي دي.

په نیول سویو توکو کې (۴۷۵) کیلو ګرامه پلاستیکي کڅوړي، (۷۲۰) کیلو ګرامه تینر تېل، (۳٦۳٦) کیلو ګرامه رُب، (۱۸۸۴) کیلو ګرامه انساني او حیواني درمل او (۱۱۲۰) کیلو ګرامه بېلابېل نور توکي شامل دي.

همدارنګه په پورتنیو ذکر سویو ولایتونو کې د یو لړ نورو پلټنو او عملیاتو پر مهال (٦۰۰۰) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۰٦۰۸) کیلو ګرامه رُب، (۲۹۴) کیلو ګرامه پلاستیکي کڅوړي، (۱۰٦۸) کیلو ګرامه لواشک، (۱٦۰) کیلو ګرامه زراعتي درمل او (۵۹) کارټنه غوړي کشف او ترلاسه سوي دي.

د یادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې دوامداره ګزمې او پلټنې کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

# د تورخم په ګمرک کې هیواد ته د یو شمېر نظامي تجهیزاتو له راوړلو څخه مخنیوی وسو



د تورخم ګمرك د تشریح برخې ځیرکو کارکوونکو په یوه وارداتي سوداګریزه محموله کې بېلابېل ډول نظامي تجهیزات، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې هیواد ته راوړي کشف او ونیول.

په نیول سوو نظامي تجهیزاتو کې د (CZ) په نوم یو میل ټوپك، (۷) شاجورونه، درې میله کرنکوف، دوه عدده کنداغونه، (۹۹) فایره د (M۱٦) مرمۍ او دوه عدده دوربینونه شامل دي.

نیول سوي نظامي تجهیزات او تورن کس د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ارګانونو ته سپارل سوي دي.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# اشتغال زایی و کار آفرینی

محمداحسان نکته دان
کار شناس ریاست عمومی بودجه

**ادامه مقاله...**

چهارمین گام فهرست نمودن سوالاتی است، که پاسخ آن بیانگر شرایط، وضعیت و توانایی های ما در قبال کار مورد نظر می باشد. به عنوان مثال: اهداف، موضوع کار، تخصص و مهارتهای فردی و گروهی موجود و مورد نیاز، انگیزه و علاقمندی به موضوع، بر آورد مالی و بررسی میزان سرمایه گذاری و امثال آن؛ سوالاتی هستند که می تواند در شناسایی و انتخاب موضوع مورد نظر به ما کمک کند.

۵- در نهایت باید کار را با توکل و امید به خدا بر اساس طرح و نقشه مناسب و از پیش آماده، آغاز نماییم. عدم دستیابی به همه انتظارات و یا حتی شکست احتمالی نباید بلا فاصله مانع از ادامه کار ما شود. اقتصاد زمانی رشد می کند و اشتغال زایی صورت می گیرد که حکومت مردم را آزاد می گذارد تا تحقیق کند، تخلیق کند، اختراع و نوآوری کنند و سود ببرند. رشد اقتصاد و اشتغال از دخالت نکردن حکومت و اجازه دادن سکتور خصوصی به انجام کار های مشروع و سودمند است؛ یعنی اجناس را تولید کنند و خدمات را ارائه نمایند. همانگونه که تذکر یافت کشور ما علی رغم مشکلات فراوان اقتصادی بستر خوبی برای اشتغال زایی هست که از نظر راقم این سطور می توان به صورت فشرده برخی آن را تذکر داد: تا چه وقت جوانان به ویژه تحصیل کرده ها حکومت را مورد سرزنش و ملامتی قرار می دهند و انتظار دارند تا حکومت تغییری را بیاورند و یا تغییر کنند. زمانیکه این جوانان به عنوان جوانی می رسند، مسئولیت به عهده آنها می باشند. باید فوراً دست به کار شوند تا آینده خویش را شگوفا و بهتر سازند. جوانان نباید تماشاگر اقتصاد خود باشند، بلکه شریک خوبی باشند. جوانان برای دریافت شغل غالباً بر حکومت اتکا دارند و توقع می برند که حکومت باید برای ایشان شغل مهیا سازد و آنها را به کار بگمارند. بی خبر از این که وظیفه حکومت این نیست که کار ایجاد کند و شغل آفرینی نماید. بلکه وظیفه حکومت این است تا محیط و فضایی را ایجاد کند تا مردم بتوانند کار های خود را انکشاف بخشند. این فرایندی است که کار یابی را که تا هنوز تصور هم نمی کردیم ایجاد می کند. مسئولیت تغییر اشیا، ایجاد کار و کسب و شگوفا نمودن اقتصاد هر کشور به دوش جوانان است نه حکومت.




**نقش دولت در اشتغال زایی و کار آفرینی:**

نقش دولت در مساعد ساختن زمینه کار مهم و چند بعدی است. دولت می تواند از طریق تطبیق پالیسی که رشد اقتصادی را تشدید و انکشاف می بخشد نقش مهمی را در ایجاد شغل بازی کند. یکی از راههای که دولت می تواند اشتغال زایی کند تطبیق پروژه های عام المنفعه؛ چون ساختن راه ها، پل ها و سایر زیربنا هاست. این پروژه ها فرصت های استخدام را بر کارگران فراهم ساخته اقتصاد محل را رشد و تقویت می بخشد. راه دیگری که دولت می تواند اشتغال زایی کند، تمویل تحقیق و ابتکارات انکشافی است. این امر نوآوری، و سرمایه گذاری در تکنالوژی های جدید، که ممکن است منتج به ایجاد صنعت های جدید و کاروبار شود، تشویق و ترغیب می کند. افزون بر آن دولت ممکن است تخفیف ویژه مالیات یا سبسایدی را به شرکت هایی که شغل ایجاد می کند، با فراهم کردن انگیزه های بیشتر برای کسب و کار به تعداد کارمندان توسعه بخشیده افراد بیشتر را به کار بگمارد. همچنان دولت ها نقش مهمی در تنظیم بازار کار و اطمینان بخشیدن فعالیت های مناسب کار از طریق انفاذ قوانین مزد و کار و حفظ اضافه کاری بازی می کند و اطمینان حاصل می کند که کارگران به طور مناسب مزد دریافت می کنند و هنگام کار برخورد های مناسب با ایشان صورت می گیرد. افزون بر آن، برنامه های آموزشی را تمویل می کند تا افراد را کمک کند مهارت های لازم را که برای کامیابی در قوای کار لازم است کسب کند که منتج به سودمندی و ایجاد کار می شود.

زمینه های اشتغال زایی در افغانستان: اما علی رغم همه این عوامل و عدم اراده و انگیزه می توان ادعا کرد که کشور ما بستر خوبی برای اشتغال زایی بوده دارای زمینه های مساعد و خوب می باشد. لذا به نظر می رسد امکان کار آفرینی و اشتغال زایی در افغانستان در بخش های مختلف به خصوص در بخش زراعت، صنعت و تولید، بهداشتی، معدن کاری، انکشافات در عرصه های ساختمانی، تعلیمی و اداری و سایر عرصه ها که نیاز به گسترش و بهبود بخشیدن آن بیشتر محسوس است، وجود دارد. کسانی که تشنه وظیفه و کار اند و نتوانسته اند در نهاد های خصوصی راه بیابند، چشم به سکتور عامه دوخته اند و توقع دارند تا از هر طریق ممکن خود را شامل کار سازند و به باور آنها منبع اشتغال دولت هست نه کسی دیگری. بنابر آن همه تلاش های خود را در راستای کسب وظیفه به خرج داده از هر طریق ممکن؛ از قبیل واسطه نمودن و سایر راه های مشروع و نامشروع تلاش به خرج می دهند تا به مقامی برسند، بی خبر از این که دولت امکانات کافی برای تقرری افراد نداشته و از توانایی های محدودی بهره مند است. جوانان باید ابتکار عمل را به دست گرفته با اعتماد به نفس خود از کار یابی دریغ نورزند. به امید روزی که سطح بیکاری در کشور به صفر تقرب کند و دیگر کسی نیاز نداشته باشد تا خانه دیگران را آباد و شاد سازند، بلکه به خانه و کاشانه خود شگوفایی بخشد.

# اعلانات داوطلبی

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه تدارک یک پایه جنراتور 110KV مورد ضرورت قومندانی قطعه محافظت گمرکات دارای نمبر قرارداد MOF/1403/NCB/G-030 را با شرکت محترم تجارتی ادیبیان ساحل دارنده جواز نمبر 84850 به قیمت مجموعی مبلغ 1،230،000 (یک میلیون دوصدو سی هزار) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی 7 روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاست تدارکات، آمریت تدارکات - مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### د داوطلبی خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ۷ بابه امنيتي برجونو چي ۲ بابه ئې د کابل په گمرک کې، ۲ بابه ئې اسلام کلا، ۱ باب د تور غنډي، ۱ باب د حیرتانو او یو باب د تورخم گمرک کي د جوړولو) په پروژه کي، چي تشخصیه نمبر ئې (MOF/1403/NCB/G-037) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبی په بڼه ترسره کیږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت

د اړیکو شمېره: 0202924292

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (اسد/ ۲۴ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (سنبله/ ۳ /۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې

د آفر تضمین: یو سل او اوه اتیا زره او دوه سوه دوه نوي (۱۸۷۲۹۲) افغانۍ

په څنډ رسېدلي او انټرنیتي افرونه د منلو وړ نه دي

### اعلان داوطلبی یکباب تعمیر دو منزله واقع برج شهرآرا!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یکباب تعمیر دو منزله دارای ٦ باب اطاق، دهلیز، تشناب، آشپزخانه و صحن حویلی به مساحت مجموعی(۳٤۸) متر مربع واقع برج شهرآرا مربوط ناحیه ٤ شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٤٦١٦) افغانی را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

کوردینات(جی.اس نمبر)

٣٤,٥٣٣-٦٩,١٦١٢٦٤

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۹/ اسد/ ۱۴۰۳ الی ۲۲/ اسد /۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینمای پامیرتعمیر ١٤منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس: ٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤-٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧

تاریخ مجلس داوطلبی ۲۳/ اسد/ ۱۴۰۳ به ساعت(۹:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### د کابل ښاروالی لومړۍ ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکیټ د ۲ بابه دوکانونو د مزایدې خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چې د کابل ښاروالی لومړۍ ناحیه اړوند د مندوي په کوڅه کي د ظاهر شاهي مارکیټ ۲ بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د مزایدي لپاره اعلان ته وړاندي کړي دي.

1. د ظاهر شاهي مارکیټ یو باب ۷۰ نمبر دوکان چې ۸.۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۴۱۰۰) افغانۍ ده.

2. د ظاهر شاهي مارکیټ یو باب ٦٢ نمبر دوکان چې ۵.٦١ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) -34.5171 69.17756

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په لوړ قیمت په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د اسد میاشتي له ۸ نېټي څخه د د ۱۴۰۳ کال د اسد میاشتي تر ۲۱ مي نېټي پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ مجلس: د (اسد/۲۲ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۹:۰۰ بجي ترسره کېږي.

د اړیکو شمېرې: 0202924624 - 0202924607

### د داوطلبۍ خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د خوست غلام خان گمرک له پاره د یو پایه ترازو د تهیه) په پروژه کي، چي تشخصیه نمبر ئې (MOF/1403/NCB/G-043) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت.

د اړیکو شمېرې: 0202924156

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (اسد/ ۱۸ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (اسد/ ۳۱ /۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: یو سل او اته شپیته زره اوه سوه شل (۱٦۸۷۲۰) افغانۍ.

په څنډ رسېدلي او انټرنیتي افرونه د منلو وړ نه دي.

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ٠٢٠٢٩٢٤٤٤٠(+)





# MoF, Private Trading Firm Ink Contract for Installation of 24 Scanners worth 7.9 bln Afs at 12 Customs as Prime Ministership Boosts Opportunities



For the intention of signing the contract of this significant project, a meeting was held at GMIC (Govt. Media and Information Center), in which the Deputy for Financial Affairs of Prime Ministership, H.E Mullah Abdul Ghani Baradar, Deputy Ministers of Finance and Policy Affairs of MoF, General Director of AOP and officials of Zubair Muswer Private Trading Company have participated. This Important project contract for the installation of 24 modern scanners and 33 small scanners for air cargo at 12 customs of Afghanistan was signed according to the principles of public and private partnership on behalf of Hon. Haji Abdul Qadir Ahmed, Deputy Minister for Financial Affairs of Mof and Zubair Musawer Private Trading Company. This project will be implemented at 12 customs offices of Afghanistan, where two scanners will be installed at each customs office, one for import and another for exporting affairs. The total value of this project is 7.9 billion Afs, which the construction working process will be completed within two years and 2,000 employees will be directly and indirectly hired for such sort of job opportunity. MoF assures that with the implementation of this project, there will be a significant increase in customs revenues, and there will be more transparency, speed, security and crucial convenience for businessmen and investors in related matters as well.

# General Directorate of Customs: "Various Contrabands Seized in Nimroz, Farah, Nangarhar, Herat Last Week" After Surveillance Staff Pledges for Eradicating Trafficking



Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs seized various contrabands during last week in the provinces of Nimroz, Farah, Nangarhar and Herat, which the smugglers wanted to bring secretly to Afghanistan.

The seized contrabands include 475kg of plastic bags, 720kg of thinner oil, 3,636kg of tomato paste, 1,884kg of human and veterinary medicine and 1,120kg of different other prohibited goods.

Notably, aforementioned contrabands and the accused persons have been handed over to the relevant customs for further proceedings.




# د افغانستان د سوداګریزو توکو ارزښت د (٢٠٢٤)ز د لومړيو شپږو مياشتو په موده کې (٥,٢) بيليونو امريکايي ډالرو ته رسېدلی دئ




د شينوا ـ Xinhua په نوم چيني خبري اژانس په خپل يوه راپور کې ويلي دي، چې افغانستان (جنوري ــ جون/ ٢٠٢٤) ز پورې، چې وايي موده ئې شپږو مياشتو ته رسېږي د (٥,٢٤) بيليونو/ ميليارډو امريکايي ډالرو په ارزښت سوداګريز توکي صادر او وارد کړي دي.

په خبر کې د اسلامي امارت د سوداګرۍ او صنعت وزارت وياند اخوندزاده عبدالسلام جواد ويلي دي: "افغانستان د (٢٠٢٤) ز په لومړيو شپږو مياشتو کې شاوخوا د (٧٠٠) ميليونو په ارزښت صادرات و بېلابېلو هيوادونو ته صادر کړي دي."

راپور منځنۍ اسيا ته د تمرکز او له افغانستان سره ئې اړيکو ته په کتو زياتوي، چې د افغانستان له (٧٠٠) ميليونو امريکايي ډالرو صادراتو څخه د (٥٨) ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت صادرات د منځنۍ اسيا ملکونو ته رسېدلي دي.

شينوا د افغانستان احصائيې او معلوماتو ملي اداري په حواله ليکي: «د روان (٢٠٢٤)ز جولای په مياشت کې د افغانستان د احصائيې او معلوماتو ملي اداري راپور خپور کړی دئ، چې وايي د افغانستان محصولات اکثره پاکستان، هند او ايران ته صادر سوي دي او د افغانستان د وارداتو عمده سرچينې ايران، پاکستان او چين دي.»

په وروستيو کرښو کې ليکي، چې تازه او وچه مېوه؛ لکه: پسته، جلغوزي، انځر، انار، انګور، کيشميش/کشمش يا مميز، ختکي او هندوانې د افغانستان د صادراتو تر ټولو نامتو محصولات دي.

## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!

اړيکه: ٢٢١

## رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!

تماس: ٢٢١



## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لارې شريک کړي.

ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤٢٣٣
/٠٢٠٢٩٢٤١٩٠/ ٠٧٤٥٧٦٥٧٥٦ ( ٩٣+ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.